## د اقتصاد علم او دهغه څانګې

اقتصاد په اصطلاح کې منځلاریتوب ته ویل کیږي ، چې د هغې له لارې خرڅ او د دخل یا ګټې وټې ( عاید ) تر منځ انډول ساتل کیږي د اقتصاد علم د انسان د سوکالۍ او هوساینې علم دی ، چې د نا محدودو غوښتنو د پوره کولو په خاطر د محدودو او کمیابو اقتصادي زیرمو او امکاناتو د اغیزمن ټاکلو او ویشلو دنده په غاړه لري اقتصاد د پیسو د ګټې ، یا پانګې او ثروت علم دی .

په بل عبارت داقتصاد علم هغه علم  دی چې د وګړو او موسسو ( سوداګریزو او صنعتي ) راکړې ورکړې ، تولیدي او مالي چارو او اړیکو څخه بحث کوي د اقتصاد د علم په تعریف کې کمښت ( کمیابي ) او ټاکل دوه اساسي او بنسټیز مفهومونه دي چې د دې علم ماهیت ټاکي په نړۍ کې د زیرمو او امکاناتو لړوالی د ټولو وګړو که نیستمن دی او که بډای ، اقتصادي ستونزه ده ، نو له دې کبله ده چې انسانان د خپلو مخ  په زیاتیدونکو بیلابیلو اړتیاوو د پوره کولو په خاطر سمو او اغیزمنو ټاکنو ته اړ دي .

په دې توګه داقتصاد علم د انساني نه پوره کیدونکو اړتیاوو او غو ښتنو د پوره کولو په خاطر ، د موجودو لږو امکاناتو او زیرمو څخه اغیزمنې ګټې اخیستنې ، تولید او ویش علم دی .

هره ټولنه پرته له دې چې څرنګه اقتصادي نظام یا سیستم لري په اقتصادي ډګر کې له دې لاندې دریو پوښتنو سره مخامخ ده دهغې د ځواب ویلو د څرنګوالي د نظام ماهیت ټاکي .

1 کوم کالي او خدمتونه تولید شي او له هریو څخه څومره تولید شي ؟

2 دا خدمتونه څرنګه تولید شي ؟

3 دا کالي او خدمتونه څرنګه وویشل شي ؟

ایکونومیا ( Economia ) کلمه په لرغوني یونان کې یوازې د کورنۍ دنظم ورکولو بحثونه و د ارسطو په اثاروکې د Economicus  کلمه دهغې پانګې (ثروت ) او شتمنۍ په مفهوم کارول شوې ده چې له سودا ګریزو هڅو څخه به لاسته راوړل کیدې اقتصادي مسالې د ارسطو په نظریاتو کې د دولت او ټولنې په هکله دهغه د عمومي فلسفې سره ګډې اویوځای دي اقتصاد ټولنیزه پوهه ده چې د نورو تولنیزو علومو یا پوهنو له څانګو لکه تاریخ ، سیاسي علوم ، ټولنپیژندنې سره نږدې اړیکې لري .

داقتصاد دعلم بنسټ په واقعي توګه د ( اقتصاد د علم پلار ) ادام سمیت

( 1723 ـــ 1790) کال د ( ملتونو د پانګې ) دکتاب په خپریدو سره کیښودل شو ، ددې اثر په خپریدو سره داقتصاد علم له سیاست او فلسفې څخه بیل او خپلواک شو تر دې دمخه د اقتصاد علم د فلسفې او سیاست دیوې برخې په توګه مطالعه کیده .

دملتونو دپانګې د کتاب له خپریدوڅخه نږدې  150 کاله وروسته په 1936م کال کې جان مینارد کنز ( 1946م ) ( د اشغال عمومي تیوري ) کتاب په خپرولو سره د اقتصاد علم ته وده او پراختیا ورکړه ، ددې کلونو په ترڅ کې د کارل مارکس

( 1818ـــ 1924م ) کتاب د ( کاپیټال ) په نوم ، چې د پانګوالۍ د نظام پر ضدیې انتقادي بڼه درلوده ، خپور شو چې د اقتصاد علم یې له له پخوانه ډیر بډای او ځواکمن کړ .

دیادونې وړ ده چې یوازې او یوازې نوموړې کسان ددې علم په بدلون او وده کې اغیزمن نه دي خو ددوی عقیدې او نظریې وې چې د بیلابیلو تیوریو او مکتبونو بنسټ یې کیښود .

آدام سمیت د ( کلاسیک مکتب ) مینارد کنز د ( کنیزونو د مکتب ) او کارل مارکس د سوسیالیسم او کمونیسم دمکتب د بنسټ ایښودلو لومړنی کار پوه شمیرل کیږي .

داقتصاد دعلم د رامنځته کیدو او خپلواک کیدو ( 1776م ) راهیسې بیلابیلو اقتصادي پوهانو د خپلو نظریو او اندونو په وړاندې کولو سره هغه بډای کړی او دیوې پراخې پوهې او وسیلې په توګه یې ګومارلی دی .

انساني ژوند په پراخیدوسره د نورو علومو په څنګ کې د اقتصاد علم د انساني مادي پرابلومونو او ستونزو د حل د علم په توګه بیساري پراختیا موندلې ده او په زیاتو څانګوویشل شوی دی ، لکه دبیلابیلو صنعتي څانګو اقتصاد ، د کرهنې اقتصاد ، د ترانسپورت اقتصاد ، د پراختیا اقتصاد ، د ښوونې او روزنې اقتصاد ، د روغتیا اقتصاد ، او داسې نور چې هریویې خپلې اړوندې مسالې د اقتصادي قوانینو په چوکاټ کې څیړي په عنعنوي توګه د اقتصاد علم په دوو اصلي څانګو ( دوه ډوله تحلیل ) لوی اقتصاد او کوچنی اقتصاد هم ویشل کیږي .

لوی اقتصاد Macro Economy :

داقتصاد دعلم دیوې څانګې اقتصادي قانون مندۍ مسالې او کړنې په کلي توګه په یو پراخ لید سره څیړي ، او د ټولنې مادي حالت دیوه کل په توګه بیانوي مجموعي عرضه ( مالي تولید ) کلي غوښتنې ( تقاضاوې ) د ټولنې د تورم نرخ ، د وزګارتیا انډول ملي پانګې اچونې او داسې نور هغه موضوعات دي چې د لوی اقتصاد موضوع جوړ وي .

په همدې شان دیوه هیواد ټول لګښتونه ، صادرات ، د ملي ګټې وټې ( عاید ) د ټاکلو نظریې ، اقتصاد پورې اړه لري .

کوچنی اقتصاد Micro Economy:

د څېړنې او بحث موضوع یې یو اقتصادي واحد ( یوه تولیدي تصدي ، یو سازمان یا یو کرنیز فارم ) دی دا څانګه دیوځانګړي تولیدونکي او یا مصرفونکي کړنې څېړي د کوچني اقتصاد قوانین له یوې خوا د تولیدي عواملو ( ماشین ، اوومه مواد او انساني پانګه ) یوځای کول په تولیدي کار ځای ( تصدي ) کې ، دهغې بدلول په کالیو او وړاندې کول یې بازارته تر مطالعې لاندې نیسي او له بلې خوا نه ، د مصرف کوونکو تصمیمونه د کالیو د اخیستلو او نه اخیستلو په باب تر تحلیل او ارزونې لاندې نیسي .

په همدې توګه په اقتصاد کې هغه لومړي بحثونه او موضوع ګانې چې تل په اقتصادي ادبیاتوکې د اقتصاد د علم په اړوند لیدل کیږي هغه د ( اثباتي اقتصاد ) موضوع له

( دستوري اقتصاد ) څخه بیلول دي چې د تحلیلونو او ارزونو له پاره خورا علمي او عملي ارزښت لري .

هغه مهال چې د بحث موضوع دیوې اقتصادي پدیدې د علت او معلول پیژندنه او دهغې د اړیکو څېړل وي ، تحلیل د اثباتي اقتصاد پر میتودونو ولاړ دی او کله چې موږ پرته له دې چې د پدیدو اود هغوعاملینو د ماهیت کړنو او اړیکو په باب څېړنې وکړو یوه پریکړه او قرار صادروو مورد دستوري ( ارزشي ) اقتصاد په چوکاټ کې عمل کوو پوهان د اثباتي اقتصاد د تحلیل روشونه د طبیعي علوموروشونه سره ورته بولي د بیلګې په توګه کله چې د شیانو او توکیو دبیو د لوړوالي او په ټولنه کې د انفلاسیون موضوع مطرح وي او وویل شي چې اړوندې ادارې دې ددې کار مخه ونیسي دا یو دستور ( لارښوونه ) ده او په دستوري اقتصاد پورې اړه لري کله چې وویل شي د انفلاسیون او دبیو د لوړوالي د مخنیوي په خاطر دې اړوندې ادارې څېړنې وکړي او د علتونو له پیدا کولو او جوتولو وروسته دې د هغه د مخنیوي په خاطر لازمې لارې چارې ولټوي دا کار په اثباتي اقتصاد پورې تړاو پیدا کوي ، له هغه ځایه چې د انساني ژوند په پراخیدوسره د علومو لمن پراخه شوې ده ، نو د اقتصاد علم هم وده کړې او په زیاتو برخو او څانګو ویشل شوی دی چې ځینې یې دا دي .

1 رهبري شوی ( ارشادي ) اقتصاد Controlled Economy :

ارشادي اقتصاد يا تر څارنې لاندې اقتصاد هغه هغه اقتصادي نظام ته ويل کيږي چې بيلابيل اړخونه يې د دولت له خوا څارل کيږي پدې نظام کې حتمي نه ده چې د توليد ټول وسايل د دولت په ولکه کې وي ، يعنې دولت تريوې اندازې پورې د اقتصاد پلان کولو ، او تريوه حده د پورونو برابرول ، بهرنۍ سوداګری او د بشري ځواکونو د برابرولو واک او اختيار په لاس کې لري .

2 د آزاد بازار اقتصاد Free market Economy :

هغه اقتصادي سيستم دی چې پر توليدي وسايلو او د ټولنې پر نورو زيرمو يې ، خصوصي مالکيت بنسټ جوړوي ، په دې سيستم کې د قرار دادونو په عقد په اقتصادي کړو وړوکې بوختيا ، او د خپلو ګټو په ټاکنه کې وګړي خپلواکه وي سيالۍ دتوکو او د خدمتونو آزاد بازار څخه ننګه او ملاتړ د هغه ځانګړنې دي .

د آزاد بازار اقتصاد يا د بازار اقتصاد کلمه د پانګوالۍ ( Capitalism ) سره مترادفه ده چې په هغې کې د اقتصاد له پاره پريکړې د عرضې او غوښتنو د ميکانيزم عمل تر اغيز لاندې په خپلواکه توګه نيول کيږي لکه : څه شی بايد توليد شي ، په کومه کچه او په کومه بيه ؟

په پانګوالۍ اقتصاد کې د دولت ونډه په اقتصادي ژوند کې محدوده او مهمې دندې يې،

د امنيت ساتل ، د عدالت تامينول ، د ناسمو او غير قانوني کار اخيستنو څخه مخنيوی،

او دهغو کړو وړو پر مخ بيول دي چې خصوصي سکټور په کې کارونه کړي .

3 مختلط اقتصاد  Mixed Economy :

د معاصر بازار هغه ډول اقتصاد دی چې په هغه کې دواړه خصوصي او دولتي سکټورونه په اقتصادي کړو وړو کې ونډه لري امکان لري د اقتصاد په بیلو برخوکې د دولتي یا خصوصي سکټور ونډه توپیر لري او یا هم به ځینو برخوکې له انحصاري موقف او دریځ څخه برخمن وي په مختلفو اقتصادي سیستمونو کې دولت بې صلاحیته نه بلکې د خصوصي سکټور سره اوږه په اوږه د حقوقي شخصیت په توګه د عامه سکټور تا مینات ( خدمتونه ) اداره کوي او پر مخ یې بیایي همدارنګه له سکتوري برخو څخه هم یادونه کیدای شي لکه :

کرنیز اقتصاد  Agricultural Economy :

کرنیز اقتصاد ، د اقتصاد دعلم هغې برخې ته وایي چې په عمومي توګه د کرنیزو محصولاتو د تولید او ویش څخه بحث کوي .

او هغه اقتصادي موسسې چې د کرنې له پاره خدمت کوي تر مطالعې لاندې نیسي .

انجینري اقتصاد  Engineering Economy :

انجینري اقتصاد ، د اقتصاد د علم یوه څانګه ده چې په کې د ریاضي او په ریاضي کې د معمولو لارو چارو او طریقو پکاروړنه ډیره ده ،  او په مجموع کې په انجینري مسالو کې د اقتصادي اصولو د کارولو څرنګوالي څخه بحث کوي ، لکه د پروژو او طرحو د اغیزمنتوب اونه اغیزمنتوب د ارزونې محاسبه کول ، او داسې نور ...

د ښوونې اوروزنې اقتصاد Education Economy :

د ښوونې او روزنې اقتصاد ، داقتصاد د علم له څانگو څخه دی چې په ښوونه او روزنه کې د زیرمو ( منابعو ) سم او اغیزمن کارونه څیړي ، او په اقتصادي توگه د ښوونې او روزنې د سیستم د موخو د پیاده کولو سره مرسته کوي .

د روغتیا اقتصاد Health Economy :

د اقتصاد دعلم له حانگوڅخه ده ، او دهغو زیرمو ( منابعو ) د قیمت او ارزښت د کمیت د مطالعې او څیړنې دنده په غاړه لري ، چې د روغتیا او درملنې له پاره پکار وړل کیږي د دې موضوع د دغه شان زیرمو داسې یوځای کول دي چې د ټاکلي تولید او خدمتونو څخه گټورتیا او اغیزمنتوب لاسته راشي .

دکار اقتصاد Labour Economy :

دکار اقتصاد ، داقتصاد د علم له څانگو څخه دی چې د مزد او دندو یا کسبونو د ټا کلو عناصرو د ماهیت د څیړولو دنده په غاړه لري ، د کار اقتصاد ، دکار څواک د عرضې او غوښتنې د کار د ساعتونو ، د مزد او حقونو د کار څرنگوالی او دکار گرانو د سوکالی اړونده مسالو څخه بحث کوي .

درياضي اقتصاد Mathmatical Economy :

درياضي اقتصاد مفهوم ، داقتصاد د علم په هغه څانگه اطلاق کیږي چې د اقتصاد دعلم بنسټونه او بحثونه په کې د رياضي دعلاموپه واسطه افاده کیږي .

د لومړي ځل لپاره د فرانسوي اقتصاد پوه ليون والراسل (1834ـ 1910م ) درياضي مفاهيمو څخه د اقتصاد په علم کې کار واخيست په اوسني وخت کې زيات اقتصاد پوهان د رياضي موډولوڅخه په کار اخيستلو سره اقتصادي مفهومونه او نظريې تفسير او تشريح کوي .

هغه وخت چې داقتصاد په علم کې له رياضي څخه کار اخيستل دود شو ، داقتصاد علم د فلسفې حالت څخه بيل او د خالصو علومو يه کتار کې ودريد .

دجګړې اقتصاد War Economy :

د جګړې اقتصاد په يوهيواد کې د اقتصاد هغه حالت ته ويل کيږي چې د کنټرولي چارو په واسطه لکه د کميابو توکيو تخصيص ، د ځيرو وضعه کول او نورو ورته عملونو سره ملکي وړ توليد او خدمتونه کم شي ، او په پرتله يي زيرمې او توليد د جګړه ييزو توکيو او د جګړې د تمويل په خاطر په کار ولويږي .

پرانيستی اقتصاد Open Economy :

پرانيسی اقتصاد هغه ډول اقتصاد ته ويل کيږي چې باندنی سوداگری ته يې هيڅ ډول محدويت نه وي په داسې اقتصاد کې د ټولنې هر وګړی کولی شي ، بې له هيڅ ډول قيد او بند څخه د خپلو باندنيو خواوو سره اقتصادي او سوداګريزې اړيکې ټينګې کړي.

پټ اقتصاد Hidden Economy :

دیوه هیواد  هغه اقتصادي هڅې ( تولید او خدمتونه ) چې د مالیاتو د ورکولو څخه تیښتې په خاطر په ملي حسابونو کې ونه شمیرل شي ، پټ اقتصاد بلل کیږي .

د پر مختللو صنعتي هیوادونو حسابونه چې د غښتلو احصایوي معلوماتو درلودونکي دي ، ثابتوي چې په منځنۍ توگه د هیواد دننه ، خالص تولید د پام وړ سلنه یې پټ اقتصاد جوړوي ، باید په پام کې ولرو چې کیدای شي د تور بازار راکړې ورکړې هم د پټ اقتصاد یوه برخه وي .

لیکوال: عطا محمد میاخېل دکابل پوهنتون دساینس پوهنځي استاد .

ترتیب او وړاندی کوونکی محمدآصف (پښتون جلالزی(